د افغانستان اسـلامی امـارت – امـارت اسـلامی افغانستان

دټولګټــو وزارت فوایـد عـامه

ISLAMIC EMIRATE OF AFGHANISTAN

MINISTRY OF PUBLIC WORKS

## د سړکونو د ساتنې او څارنې معینیت

# ﴾ د ټولګټو وزارت د سړکونو د ساتنې او څارنې معین محترم الحاج معاون ملا عبدالجبار د یو تخنیکي پلاوي په ملتیا د هیواد جنوب غربي او غربي ولایتونو ته د کاري سفر لنډ راپور﴿

کــــابل – افغانستان

۱۵میزان ۱۴۰۲هـ ش مطابق ۲۲ ربیع الاول ۱۴۴۵هـ ق

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**د ټولګټو وزارت سړکونو د ساتنې او څارنې معین محترم الحاج ملا عبدالجبار د یو تخنیکي پلاوي په ملتیا د هیواد د جنوب غربي او غربي ولایتونو ته د کاري سفر لنډ راپور.**

د ټولګټو وزارت سړکونو د ساتنې او څارنې معین محترم الحاج ملا عبدالجبار او ورسره مل تخنیکي پلاوی د خپل کاري سفر په ترځ کې د کابل – کندهار د لویې لارې د بیا رغوونې روانې چارې چې په (۷) لاټونو کې پیل او اړونده کارونه یې د ټولګټو وزارت د سړکونو د ساتنې او څارنې د مرکزي او ولایتي فني او مسلکي پرسونل او د خصوصي سکتور لخوا پر مخ وړل کیږي له نږدې لیدنه وکړه.

د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د ذکر شوي مسیر په اوږدو کې د اسفالت کانکریت، سیمنت کانکریت د تولیدي دستګاوو د تولیدي ظرفیت او په ذکر شوو پروژه کې یې د موجودو وسایطو او د سړک جوړونې ماشینرۍ ارزونه وکړه او همدغه راز یې د مسیر په اوږدو کې د ټولو هغو کمپونو څخه لیدنه وکړه چې د ذکر شوو پروژو د کاري پرسونل د استوګنې لپاره په موقتي ډول تاسیس او ودان شوي دي.

د سړکونو د ساتنې او څارنې معین او ورسره مل تخنیکي پلاوي د مسیر په اوږدو کې د قراردادي شرکتونو او د ټولګټو وزارت لخوا د ګمارل شویو انجنیرانو سره ګډې ناستې تر سره کړې، د هغوی کاري ستونزې یې واوریدلې او د ټولو تر کار لاندې پلونو، پولګوټو، استنادي دیوالونو، معبرونو او د اسفالتي فرش د ترمیم او بیا رغونې په چارو کې موجودې نیمګړتیاوې اړونده ساحوي مسئولینو ته ور په ګوته کړې او د پلان شویو کارونو د لا چټکیا په اړه یې ورته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

❖ د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د خپل کاري سفر په لړ کې د کندهار – هرات د لویې لارې په اوږدو کې د کندهار د باغ پل څخه تر هلمند - کندهار درې لارې او د هلمند - کندهار له درې لارې څخه تر ګرشک بازار پورې د ذکر شویو برخو د ترمیماتي اود بیارغونې له روانو چارو او دغه راز د ګرشک له بازار څخه ترسنګیلان، د سنګیلان نه تر جوزار او د جوزار له سیمې څخه د هرات د شوز تر سیمې چې مجموعي اوږدوالی یې (۳۰۳) کیلو مترو ته رسیږي چې د سړک ددغې برخې د ترمیم او بیا رغوونې چارې د امیرالمومنین حفظه لله د ځانګړي حکم په اساس د څه مودې راهیسې پیل شوې دي، تفصیلي لیدنه وکړه. نوموړی د ذکر شوي مسیر په اوږدو کې د اړونده قراردادي شرکتونو او د ټولګټو ریاستونو د مسئولینو سره ناستې درلودې چې قراردادي شرکتونه یې د هغوی سره د لاسلیک شویو قراردادونو د شرطنامو په رڼا کې خپلو دندو ته متوجه کړل او هغوی ته یې لازمې سپارښتنې وکړې چې ورسپارل شوې دندې د خپلو قراردادونو مطابق په معیاري ډول په ټاکل شوې موده کې سر ته ورسوي.

❖ د سړکونو د ساتنی او څارنې معین او ورسره مل تخنیکي پلاوی د کندهار – هرات د لویې لارې د ترمیماتي او بیارغونې د چارو د هر اړخیزې لیدنې او څیړنې په دوام هرات ولایت ته ورسېد نوموړي د هرات ولایت د ټولګټو ریاست د رئیس په ګډون د نوموړي ریاست د کارکونکو سره کاري ناسته درلوده، د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د هرات ولایت د ټولګټو ریاست ټولې اداري، مسلکي او په نوموړي ولایت کې د لوړ تناژ د کنټرول د ( شپږو) تلو د عوایدو د راټولونې، اړونده بانکي حسابونو ته د

عوایدو د لیږدونې او د لویو لارو په اوږدو کې د لوړ تناژ د لیږدونکو وسایطو د کنټرول په اړه هر اړخیزه څیړنه او ارزونه وکړه، نوموړي د اړونده مسئولینو ټولې هغه نیمګړتیاوې چې د نوموړي ریاست په اداري او مسلکي برخو کې موجودې وې ورپه ګوته کړې او هغوی ته یې د اصلاح په اړه لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د هرات په ولایت کې د هرات ولایت د ټولګټو ریاست اړوند د کمر کلاغ په سیمه کې د اسفالت کانکریت د تولید فابریکه، د مات شوي جغل (کرش) د تولید له دستګاه، د وسایطو او د سرک جوړونې له ماشینری او د ودانیزو موادو ( کرش او قیر) له ذخیرو لیدنه وکړه، او اړونده مسئولین یې د تولیدي دستګاوو او ماشینری په ښه او فعال ډول د ساتنې له امله وستایل او د هغوی قدر دانی یې وکړ.

د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د خپلو لیدنو په ترخ کې د هرات – تور غنډۍ لویې لارې په اوږدو کې د لوړ تناژ د کنټرول له تلې (ترازو) هم لیدنه وکړه او د یادې تلې کاري بهیر یې له نژدې وارزوه او د ترازو مسئولینو ته یې د لوړ تناژ لیږدونکو وسایطو د کنټرول په اړه لازمې سپارښتنې وکړې او اړونده مسئولین یې خپلو دندو ته متوجه کړل.

نوموړی د هرات ولایت د ګذری په ولسوالی کې د ټولګټو ریاست له تأسیساتو او تخنیکي ورکشاپونو څخه هم لیدنه وکړه، په ذکر شویو ورکشاپونو کې ګڼ شمیر د خرادی مختلف النوع ماشینونه، د دیزل پمپ د تست ماشینونه او په سل ګونه قلمونه پرزه جات شتون لري چې په تیرو دوو لسیزو کې په کامله توګه له پامه غورځول شوي وو، د ورکشاپونو تخنیکي پرسونل له دندو شړل شوي وو چې اوس لله الحمد د اسلامي امارت په راتلو سره نوموړي ورکشاپونه د هرات ولایت د ټولګټو د رئیس په زیار او زحمت فعال او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي چې د سرکونو د ساتنې او څارنې معین اړونده مسئولینو ته په راتلونکي مالي کال کې د نوموړو ورکشاپونو د تشکیلاتي جوړښت او د تخنیکي اشخاصو د استخدام په اړه ډاډ ورکړ.

د سرکونو د ساتنې او څارنې معین او ورسره مل تخنیکي پلاوي د هرات – اسلام کلا لویې لارې په اوږدو کې د ماهي فروشان په نوم پل د ویجاړو شویو برخو څخه چې د وروستیو سیلابونو له امله رامنځ ته شوي دي لیدنه وکړه او د نوموړي پل ستراتیژیک اهمیت ته په کتو یې اړونده مسئولینو ته د ترمیم په اړه لازمې سپارښتنې وکړې چې د سیلابي موسمونو د رارسیدو دمخه د نوموړي پل ترمیماتي چارې بشپړې کړي.

د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د هرات ولایت د ټولګټو ریاست مسئولینو ته لارښوونه وکړه چې د لویو لارو د ترمیم لپاره د اختصاص شوې بودجې څخه په ګټې اخیستنې سره د هرات – اسلام کلا او هرات – تورغنډۍ د لویو لارو د اسفالتي فرش د ترمیم او د نوموړو لویو لارو په اوږدو کې د سیلابي رسوبي موادو څخه د ټولو پلونو، پولګوټو او سرک د بغلي ویالو د پاکولو په اړه چې په تیرو دوو لسیزو کې ورته هیڅ ډول پاملرنه نه ده شوې او اکثریت یې په کامله توګه بند دي، بیړني اقدامات تر سره او ددغې ملي شتمنی د ویجاړتیا مخنیوی وکړي.

- ❖ د سرکونو د ساتنې او څارنې معین او ورسره مل تخنیکي پلاوي د هرات څخه بادغیس ته د ورغځیدلي سرک چې د هیواد د حلقوي سرک یوه برخه ده لیدنه وکړه، نوموړي د ذکر شوي مسیر په اوږدو کې د سبزک کوتل په ګډون د ذکر شوي سرک د اسفالتي فرش هغه برخې له نژدې ولیدې چې کارونه یې په تیر وخت کې د قراردادي شرکتونو لخوا نه دي بشپړ شوي او لا تر اوسه نیمګړي پاتې دي چې د ټولګټو وزارت به یې په راتلونکي کې د پاتې برخو د ودانیزو چارو د بشپړیدو په اړه اړین اقدامات تر سره کړي.

د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د خپل کاري سفر په دوام د بادغیس ولایت مرکز قلعه نو ته ورسېد او په نوموړي ولایت کې یې د بادغیس ولایت د ټولګټو ریاست د کارکوونکو سره ناسته تر سره کړه، د ذکر شوي ریاست اداري او مسلکي چارې او د هغوی کاري پلانونه یې په هر اړخیز ډول وڅېړل او هغه نیمګړتیاوې چې د نوموړي ریاست په اداري او مسلکي چارو کې موجودې وې روښانه او د نوموړي ریاست اړونده مسئولینو ته یې د هغوی د اصلاح په اړه لارښوونې او سپارښتنې وکړې.
دغه راز د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د بادغیس د ولایت له قلعه نو ښار څخه تر با لا مرغاب ولسوالی پورې د سړک له هغه مسیر څخه هم لیدنه وکړه چې ودانیزې چارې یې نیمګړې پاتې دي .
نوموړي ددغه مسیر څخه د لیدنې پر محال د بادغیس ولایت د مقر په ولسوالۍ کې د ترکانو په نوم ساحوي کمپ کې تم شو، دغه کمپ چې په تیر وخت کې د یو ترکي قرار دادي شرکت لخوا د بادغیس – فاریاب د لویې لارې په پاخه او اساسي ډول د جوړونې په موخه ودان او تاسیس شوی وو هم لیدنه وکړه او په ذکر شوي ساحوي کمپ کې یې د موجودو وسایطو، ماشینرۍ، د اسفالت کانکریت، سیمنت کانکریت، د ودانیزو توکو له ذخیرو او په کمپ کې د ټولو دفتري تاسیساتو او اجناسو هر اړخیزه ارزونه وکړه او د بادغیس ولایت د ټولګټو رئیس ته یې، په کمپ کې د ټولو موجودو اجناسو د ثبت او راجستر او د هغوی د ساتنې په اړه لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.
د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د بادغیس – فاریاب د لویې لارې په اوږدو کې د بالا مرغاب په سیمه کې د سړک د هغو ودانیزو چارو څخه هم لیدنه وکړه چې کارونه یې د یاد ولایت له فتحې وروسته د یو قرار دادي شرکت لخوا پیل شوي دي، د نوموړي لخوا د قراردادي شرکت روانې چارې مثبتې و ارزول شوې او قراردادي شرکت ته یې د مسیر په اوږدو کې د هر راز تخنیکي او اجتماعي ستونزو د حل په موخه د مرستې او کومک ډاډ وکړ.
❖ د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د بادغیس او هرات په ولایتونو کې د لویو لارو او سرکونود کار لاندې ترمیماتی او بیا رغونې د پروژو له لیدنې وروسته د خپل کاري پلان له مخې د فراه ولایت له دری لارې څخه د فراه تر ښاره د ورغځیدلي سرک د موجود وضیعت او د دغه سرک د دواړو غاړو د اصلاحاتي چارو چې کار یې د فراه ولایت د ټولګټو ریاست د کاري ټیم لخوا پر مخ وړل کیږي لیدنه وکړه او مسؤلینو ته یې د کار د چټکتیا او کیفیت په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.
نوموړي د فراه ولایت د ټولګټو د ریاست په مقر کې د نوموړي ریاست د کارکونکو سره کاري ناسته درلوده په دغه ناسته کې یې د نوموړي ریاست کارکونکي خپلو دندو ته متوجه کړل، نوموړي د خپلې لارښوونکې وینا په یوه برخه کې وویل چې د اسلامي امارت په نظام کې هره چوکۍ او منصب چې د یو امانت په ډول افرادو او اشخاصو ته سپارل کیږي نو لازمه ده چې ټول ګمارل شوي اشخاص د هرې اداري له جاروکښ او خانه سامانه تر رئیسه او وزیره د خپلې چوکۍ، منصب او صلاحیت څخه خلکو او وطن ته د خدمت په لار کې وکاروو؛ نه دا چې د خپلې چوکۍ او ورکړل شوی صلاحیت څخه د ځان د شخصي ګټو، د خلکو د ځورونې، لوټمارۍ، وحشت، بربریت او نورو ناوړه غیر شرعي او غیر اسلامي اعمالو د سرته رسولو په موخه وکاروي، ددې تر څنګ نوموړي د فراه ولایت د ټولګټو ریاست د اداري او مسلکي چارو ارزونه وکړه، دهغوی نیمګړتیاوو د اصلاح په اړه یې چې د ذکر شوي ریاست په روانو چارو کې موجودې وې اړونده مسئولینو ته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې او اړونده مسئولین په تطبیق او اجراء مکلف وګڼل.
د سرکونو د ساتنې او څارنې معین د فراه ولایت د ټولګټو چارو د رئیس په ملتیا په فراه ولایت کې تر کار لاندې د سرکونو په ودانیزو پراختیایي پروژو کې د خپلو ستونزو د حل او په چارو کې د ښې همغږۍ د رامنځ ته کیدو په موخه د نوموړي ولایت

په مقام کې د فراه ولایت د مرستیال والي سره هم ولیدل او د پروژو په تطبیق کې یې د فراه ولایت مقام مرسته او همکاري اړینه وبلله او له هغه یې د فراه ولایت د ټولګټو ریاست سره د لازمي همکارۍ غوښتنه وکړه.

د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د فراه ولایت ته د خپل کاري سفر په ترڅ کې د فراه له ښاره د ایران د اسلامی دولت سره د ابوالنصر فراهی تر بندره د ورغځیدلي سړک په اوږدو کې د (مېل ۷۸ شیخ ابو نصر فراهی) پروژې له ودانیزو چارو هم لیدنه وکړه.

ذکر شوی لویه لار د افغانستان لپاره د ځانګړي اقتصادي او ستراتیژیک اهمیت لرونکې ده چې کارونه یې د ایران د اسلامی دولت په مالي مرسته تقریباً (۸) کاله پخوا شروع شوي خو لا تر اوسه یې کارونه نه دي تکمیل شوي او ډیر سست او بطي پر مخ روان دي.

دغه پروژه د ابو نصر فراهي له بندر څخه شروع او د فراه د ولایت د مرکز په استقامت (۱۱۷) کیلو متره اوږدوالی لري، دغه پروژه په دریو برخو تقسیم شوې ده چې کارونه یې د افغاني او ایراني شرکتونو لخوا په ګډه پر مخ وړل کیږي.

دغه پروژه چې د فراه ولایت په استقامت غزیدلې ده د هیواد په اقتصادي وده، د کورنیو او بهرنیو تجارانو په راجلبولو، د منطقې او د نړی د هیوادونو سره د تجارتي، کلتوري او اجتماعي اړیکو او د افغانستان راکړه ورکړه د منطقې د هیوادونو سره ټینګوي، دغه لویه لار د منطقې په سطحه یوه له مهمو حیاتي لویو لارو څخه شمېرل کیږي چې په جوړیدو سره به یې د ذکر شوې لارې په اوږدو کې د ځایي اوسیدنکو د ژوند ګڼ شمیر ستونزې هوارې او د هغوی زراعتی او حیواني پیداوار په وخت او زمان نورو ښارونو او مارکیټونو ته ورسیږي.

د ذکر شوي سړک د روانو چارو د لیدنې پر محال د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د فراه ولایت د پشت کوه ولسوالی د قلعه کاه په سیمه کې د لوړ تناژ د کنترولي تلې (ترازو) څخه هم لیدنه وکړه او د ذکر شوې تلې د لوړ تناژ د لېږدونکو وسایطو د وزن کولو روانه پروسه یې وارزوله او اړونده کارکونکو ته یې لازمې لارښوونې وکړې، نوموړي د فراه په ولایت کې له خپلو لیدنو وروسته د نیمروز ولایت ته ولاړ.

❖ د سړکونو د ساتنی او څارنی معین او ورسره مل تخنیکی پلاوی د دلارام څخه تر زرنج ښار پورې د غزیدلې لویې لارې څخه لیدنه وکړه د ذکر شوي مسیر په اوږدو کې یې د سړک د اسفالتي فرش د ځینو ویجاړو شوو برخو او نقطو او یو شمېر پولګوټو د ترمیم او بیا رغوونې په اړه د نیمروز ولایت د ټولګټو ریاست مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې او لارښونې وکړې، دغه راز د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د مسیر په اوږدو کې د غورغوري او چیګنې له ساحوي کمپونو چې ددغه سړک د اساسي رغونې پر محال د (BRO) د یوې هندي کمپنی لخوا ودان شوي وو په کمپونو کې د موجودو وسایطو، ماشینرۍ، د کانکریت بیتون، اسفالت بیتون له تولیدي دستګاوو، د پرزه جاتو له دیپوګانو او ودانیزو توکو له ذخایروهم لیدنه وکړه او اړونده مسؤلینو ته یې د هغوی د ساتنې په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.

ښاغلي معین صاحب د ذکر شوي مسیر په اوږدو کې د سړک له هغو برخو هم لیدنه وکړه چې د نیمروز په ولایت کې د موسمي طوفاني بادونو او روانو ریګو له امله بندیږي او د ترافیکو عادي جریان د ستونزو سره مخامخ کوي، نوموړي اړونده مسئولینو ته د پر خپل وخت د روانو ریګو د پاکولو او د ترافیکو د نورمال جریان د تأمین په موخه لازمې سپارښتنې وکړې او هغوی ته یې د اړتیا وړ ماشینرۍ او وسایطو د اکمال ډاډ ورکړ، همدغه راز ښاغلي معین صاحب د نیمروز په ولایت کې د (سر شیلې) د پل د روانو ودانیزو چارو چې کارونه یې د ختمیدو په مرحله کې قرار لري چې ډیر ژر به ګټې اخیستې ته وسپارل شي هم لیدنه وکړه او قراردادي شرکت ته یې د کار د کیفیت په اړه لازمې سپارښتنې وکړې، همدغه راز ښاغلي معین صاحب د ایران

اسلامي دولت سره پولې ته ورځیرمه د ابریښم پل څخه هم لیدنه وکړه او پل ته د ورداخلیدونکي سړک د هغې برخې د ترمیم په اړه چې د باروړونکو وسایطو د زیات وزن د انتقال له امله تخریب شوی دی، د نیمروز ولایت د ټولګټو ریاست مسئولینو ته یې د ترمیم په اړه لارښوونه وکړه.

ښاغلي معین صاحب د نیمروز په ولایت کې د خپل کاري سفر په لړ کې د نیمروز ولایت د ټولګټو ریاست د کارکوونکو سره کاري ناسته درلوده، نوموړي په خپله ناسته کې د اړونده ریاست کارکوونکي خپلو اړونده دندو اومسئولیتونو ته متوجه کړل او همدارنګه نوموړي په هر اړخیزه توګه د ذکر شوي ریاست د اداري او مسلکي چارو او د اړونده ریاست د کلني کاري پلانونو ارزونه وکړه او د موجودو نیمګړتیاوو د اصلاح په اړه یې ددغه ریاست مسئولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

❖ د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د نیمروز په ولایت کې د خپل کاري سفر وروسته د هلمند ولایت ته ولاړ او د هلمند په ولایت کې یې د کندهار هلمند له دری لارې څخه د لښکرګاه تر ښاره د غزیدلي سړک ترمیماتي چارې چې د ټولګټو وزارت له پراختیایې بودجې څخه د یو قراردادي شرکت لخوا پر مخ وړل کیږي لیدنه وکړه او د نوموړې پروژې مؤظف انجنیری ټیم ته یې د پروژې په کارونو کې د چټکتیا او په معیاري ډول د پلان شویو چارو د سرته رسولو په اړه لازمې لارښوونې وکړې، ښاغلي معین صاحب د پروژو په تطبیق کې د قراردادي شرکتونو د انجنیری ډلو او د ټولګټو وزارت د څارونکو انجنیری ډلو همغږې ډیره اړینه وبلله او په هره پروژه کې یې د دواړو خواوو لخوا ګمارل شوې انجنیری ډلې په مشترک ډول سره د کار کولو مشترک اصل ته را وبلل او هغوی ته یې د پروژو د تخنیکي او مسلکي ستونزو د حل په اړه لازمې لارښوونې وکړې.

❖ د سړکونو د ساتنی او څارنی معین د خپل کاري سفر په ترڅ کی د کندهار – ارزګان د پخواني سړک د ترمیم او بیا رغوونې چارې چې کارونه یې له دواړو لورو (د کندهار له استقامته د ارزګان او همدغه راز د ارزګان له استقامته د کندهار په طرف) د کندهار د ولایت د ټولګټو ریاست د کاري پرسونل او د یو قراردادي شرکت لخوا پیل شوي دي لیدنه وکړه، اړونده ساحوي مسئولینو ته یې کاري نیمګړتیاوې ور په ګوته او د کارونو د چټکتیا په موخه یې اړونده ساحوي مسئولینو ته لازمي سپارښتنې وکړې.

د سړکونو د ساتنې او څارنې معین د سړک د روانو ترمیماتي چارو د لیدنې تر څنګ د ارزګان ولایت د ټولګټو په ریاست کې د نوموړي ریاست د پرسونل څخه لیدنه وکړه او د نوموړي ریاست اداري او مسلکي چارې په تفصیلی ډول و ارزولې، د نوموړي ریاست د کاري پرسونل ستونزې او شکایتونه یې واوریدل او د هغوی ستونزو او شکایتونو ته یې د لازمې رسیدنې ډاډ ورکړ او اړونده مسئولینو ته یې په اداري او مسلکي برخو کې د موجودو نیمګړتیاوو د اصلاح په اړه لازمې لارښوونې وکړې.

نوموړي د ترینکوټ په ښار کې د ارزګان ولایت د ټولګټو ریاست اړوند د کمپنی په نوم له کمپ او نوموړي ریاست د وسایطو او ماشینری له تم ځای او په کمپ کې د موجودې ماشینری څخه هم لیدنه وکړه او اړونده مسئولینو ته یې د هغو وسایطو او ماشینری د ترمیم او فعالیدو په اړه چې د ترمیم وړ دي، همدغه راز د هغوی د ساتنې او د وسایطو او ماشینری څخه د مثمری ګټې اخیستنې په اړه لازمې سپارښتنې وکړې.

انجنیر عبدالرحمان شینواری
د سړکونو د ساتنی او څارنی ارشد متخصص

عبدالواسع صابری
د سړکونو د ساتنی او څارنی رئیس

**منظور کوونکی:**

**الحاج معاون ملا عبدالجبار**

**د سړکونو د ساتنې او څارنې معین او د هیئت مشر**